## I. ګمرکات

**په سرحداتو کی د ګمرکي معلوماتو ارزونه به د ګمرکاتو د ریاست سره مرسته وکړي ترڅو په ګمرکي سسیتم کښې شته تشې او ستونزې سمې او د دولت عواید ډیر شي.**

داسې بریښي چې د افغانستان صادراتي او وارداتي توکي په سم ډول په هغه ډیټابیسونو کې چې په همدې موخه د افغانستان په ګمرکونو کی جوړشوی؛ نه ثبتیږي. د اغیزناکو کسانو د نفوذ شتون او همدارنګه د ګمرکاتو کارکونکي د ډیرو لارو د نمونې په ډول د فساد د مختلفو ډولونو، د زیرمو څخه د ناوړه ګټه اخیستنې، په قاچاق او ټولو غیر قانوني کړنو کی نغښتل، د دغه توکو په نه ثبتیدو کی ډیروالی راوستی دی. پخوا د وکالت تجارتي ځانګه د افغانستان په کنسولګریو لکه د پاکستان په پیښور او کویټه او د ایران په مشهد ښارونو کی موجود وه او هغه توکي چې افغانستان ته واردیدل، په دغه ځانګو کې به ثبتیدل. په اوس وخت کی دغه وکالت تجارتي ځانګې له منځه وړل شوي او د توکو د ثبت او راجستر لپاره کوم ځانګړی کړندود او میکانیزم شتون نه لري. د ګمرکي اداراتو ترمنځ د صادراتي او وارداتي اسنادو او مدارکو نه شریکولو دا ستونزمنه کړې چې پوه شو چې څومره توکي په سم

ډول نه دی ثبت شوي او ګمان کيږي چې د فساد ککړو کړنو پواسطه به لورته ګرځول شوي وي.

د دغه ډول معلوماتو شريکول د همسايه هيوادونو د ګمرکي اداراتو سره د دغه اغيزلرونکو کسانو او ډلو لاسوهني محدودوي.

**<u>۷، ۱۳: سپارښتنه</u>:** د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو وزارت او د ماليې وزارت د ګمرکاتو عمومي رياست د افغانستان پاکستان د ترانزيتي او تجارتي تړون (APTTA) په رڼا کې بايد د پولې څخه هاخوا د پاکستان د ګمرکونو سره د توکو د ارزونې ميکانيزم چمتو او پلی کړي. د پاکستان هيواد سره ددغه ميکانيزم د بريالي پلي کيدو څخه وروسته دي دغه ميکانيزم د نورو همسايه هيوادونو سره هم په پام کی ونيول شي.

**<u>۷، ۱۳: بنچمارک</u>:** د پاکستان د هيواد سره د صادراتي او وارداتي توکو د ارزونې د معلوماتو د شريکولو ميکانيزم تر شپږ مياشتو پورى چمتو کيږي.

**<u>د تمې وړ پايله</u>:** د همسايه هيوادونو سره د صادراتي او وارداتي توکو په اړه د معلوماتو شريکول به د فساد پروړاندې د زيانمننې کچه راټيټه او د هيواد د عوايدو د زياتوالي باعث وګرځي.

**د افغانستان په ګمرکونو کې د توکو د تشریح او بررسۍ پر سر سخت کنټرول به د فساد کچه راټیټه او د سیستم څخه د ناوړه ګټې اخیستنې مخنیوی وکړي.**

د افغانستان د ګمرکاتو د قانون پر بنسټ، ټول هغه صادراتي او وارداتي توکي باید د ګمرکاتو په ډیټابیس کې ثبت او ورځخه ګمرکي تعارفې واخیستل شي. سره له دې چې د توکو د تشریح او بررسۍ لپاره کافي حقوقي مقررات شتون لری، ولی بیا هم داسی رپوټونه شته چی توکی د ګمرکی مامورینو لخوا د مقرراتو سره سم نه ثبت، تشریح او بررسي کیږی؛ چې دغه کړنه ددې سبب ګرځي چې ددولت عوايد شخصي حسابونو ته پریوځي. همدارنګه داسې مالومات شته چې د ګمرک کمیشنکاران د دې لپاره چې ګمرکي سیستم بلې لوري ته وګرځوي او د دوی د خوښې او ځانګړي ګمرکي مامورین د تشریح او بررسۍ لپاره وګمارل شي، د توکو په اړه ناسم او غلط مالومات سیستم ته داخلوي. د توکو د ثبت، تشریح او بررسۍ په اړه د سختو او کوټلو کنټرولی میکانیزمونو شتون به د کمیشنکارانو د فساد او هم د ګمرکي کارکونکو د ناوړه ګټې اخیستنې څخه مخنیوی وکړئ.

**<u>۷، ۱۴:سپارښتنه</u>:** د افغانستان د ګمرکاتو عمومي ریاست باید د توکو د ثبت، تشریح او بررسۍ

لپاره يو بريښنايي ميکانيزم (سکنر، بارکوډ، انځور او نور) چمتو کړي، ترڅو د کميشنکارانو له خوا سيستم ته د مالوماتو داخلول او د ګمرک د مامورينو پواسطه د دې مالوماتو ارزول، په کره او روڼ ډول ترسره شي. په ورته وخت کی د توکو د تشريح او بررسۍ ميکانيزم بايد پراخوالی ومومئ او د فساد پروړاندې د تګلارې د غوښتنو سره بايد پوشان عمل وکړئ.

**۷، ۱۴: بنچمارک:** په سيستم کی د توکو د ثبت، تشريح او بررسۍ پر سر سخت کنټرولي ميکانيزمونه تر شپږو مياشتو پورې رامنځته کيږي.

**د تمې وړ پايله:** د توکو د ثبت، تشريح او بررسۍ پرسر د سختو کنټرولي ميکانيزمونو شتون به دفساد د کچې د ټيټوالي او د دولت د عوايدو د ډيروالي لامل وګرځئ.

**د ګمرک درغل کارکونکي او کميشنکاران کله چې مالومات سيستم ته داخلوي د سيستم څخه ناوړه ګټه پورته کوي، چې په پايله کی ددولت عوايد د خلکو شخصي حسابونو ته ليږدول کيږي.**

د افغانستان د ګمرکاتو د قانون ۱۶مه ماده د ګمرکي پروسې د سرته رسولو لپاره کميشنکارانو ته اجازه ورکوي. د ګمرکاتو رياست ټولو

کمیشنکارانو ته جواز ورکوي او هغوی ته یو حساب پرانیزي ترڅو وکولای شي په ګمرکي تآسیساتو کې د شته کمپیوټری سیستمونو څخه ګټه پورته کړئ او اړین معلومات سیستم ته ورپورته کړئ. داسې رپوټونه شتون لري چې د کمیشنکارانو د ګمارنې پروسه رڼه نه ده او د دولت د لوړپوړو چارواکو لاسوهنې او اغیز پکې ترسترګو کیږي. داسې رپوټونه هم شته چې کمیشنکاران د دې لپاره چې د سیستم څخه ناوړه ګټه پورته کړئ د ګمرک په کارکونکو باندې د خپل اغیز څخه ګټه پورته کوي. داسې ادعاوې شته چې ویل کیږي د توکو پورته کول سیستم ته یوه اشتباه ده او حتی تردې پورې چې کمیشنکاران د دې لپاره چې تجار کم ګمرکي محصول ورکړئ او ډیره برخه یې د دوی شخصي حسابونو ته پریوځي، د یوه توکي اصلیت ته تغیر ورکوئ. د کمیشنکارانو د ګمارنې د پروسې او د هغوی د کړنو ارزول به د ناوړه ګټه پورته کونکو د پیژندنې سبب شي او همدارنګه د دغه کسانو څخه د یوه تور لست چمتو کول به ګمرکاتو ته د دغه کسانو د بیاځلي ننوتلو څخه مخنیوی وکړئ.

**<u>۷، ۱۵: سپارښتنه:</u>** د افغانستان د ګمرکاتو عمومي ریاست باید دغه کمیشنکارانو چې په ګمرکي پروسو کی دخیل دي کړنې وارزوئ، ناوړه ګټه پورته کوونکي وپیژني او د ناوړه ګټه پورته

کوونکو یو تور لست چمتو کړئ. نوموړی لست باید عامهٔ خلکو ته د لاسرسی وړ وي او هغه کسانو ته چې په دغه لست کې شامل دي اجازه ورنکړل شي چې بیاځلې د ګمرک اړونده کړنو ته داخل شي. د ګمرکاتو درغلو کارکوونکو سره باید د ملکي خدماتو د قانون او د افغانستان د جزا د قانون سره سم چلند وشي.

**۷، ۱۵: پنځم ګمرک:** د افغانستان د ګمرک کمیشنکاران تر ۴ میاشتو پورې ارزول کیږی او د هغو کمیشنکارانو څخه چې د قانون څخه سرغړونه کوئ، تر ۶ میاشتو پورې تور لست چمتو کیږي.

**د تمې وړ پایله:** د ناوړه ګټه پورته کوونکو کمیشنکارانو ویستل به د ناوړه ګټې اخیستنې څخه مخنیوی وکړئ چې په پایله کې به د دولت عواید لوړ شي.